نجیب الله پتمن ۲۰۲۱/۰۳/۰۱

ارماني سوله ناشوني ده

(علمي بحث)

سوله د بشر بقا او بشري تمدن د ژغورني لپاره حتمي عنصر ګڼل کېږي. سوله د هر ډول رغوونکي کار، ټولنیز ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري بنیاد ګڼل کېږي .
هر انسان د سولې په اهمیت او ارزښت پوهیږي. هر افغان غواړي په سوله ییزه ټولنه کې ژوند وکړي. په ننۍ نړۍ کې ستري پرګنې د سولې په ارمان کې ژوند کوي .
ولې داسې غمیزه سناریو؟
ولې د سولې ارمان او عمل تر منځ تضاد موجود دی؟
په دې مقاله کې به د سولې بحث لږ ژور وڅېړو. دا د ولس د پرګنو دنده نه ده چې دغه تضاد په میتودیکه طریقه وڅېړي، ځکه چې دا موضوع د دوی له پوهې ها خوا ده.
که چېرې د سولې موضوع د علمي پرنسیپ په چوکاټ کې وڅېړو کېدای شي د سولې د حل مناسب فارمول پیدا کړو.
د سولې په لاره کې پرتې ستونزې د تاریخي لید لوری او اسلامي نظریې په رڼا کې وڅېړو:
د سولې فرضیه ټولنیز علومو پوهانو او ایدیالوژیستانو بیله بیله تعریف کړی ده.
د ساینس پوهانو له نظره د سولې فرضیه د حقیقت پر بنسټ ولاړه ده، پداسې حال کې د سولې ایدیال په انګیر پالنه او ارماني چورتونو ولاړه ده.
د سولې علمي فارمول: یوازینۍ عملي وسیله ده او ایدیالی فارمول د خلکو د ارزوګانو ټولګه ده او د سولې خیالي فرضیې د نړۍ په کچه اوسنی کړکېچ زیږولی دی .
د پوهانو له نظره: «سوله د جګړې نه شتون دی»، مګر ایدیالیستان د دې تعریف خلاف صرف د جګړې نشتوالي ته سوله نه وایي. دوی «سوله او عدالت یو دبل لازم او ملزوم بولي». د دوی یوازینۍ منلی فارمول د ایدیال احساس په شتون کې عدالت پر خپل ځای کېښول دي. په داسې حال کې چې دا ډول خیالي نړۍ ناشوني ده.
د سولې ایدیالیستیکه فرضیه په ظواهرو کې ښکلی بریښي او د دغې ظاهري ښکلا له کبله زیات پلویان لري. د خلکو پرګنې هر چېرته د سولې په ایدیالیستیکه فرضیه کې را ایسار دي، یوازې واقعبین انسانان د شونې او ناشونې سولې تر منځ توپیر کولای شي.
دلته بل بدیل نشته، هر څوک که غواړي مثبتو پایلو ته ورسیږي باید عملي واقعیتونو و مني. د سولې هدف یوازې د جګړې د خواوو تر منځ حالات عادي کول دي. د سولې هدف د جنګي اړخونو ترمنځ د حق او عدالت ټینګښت او سیاسي قدرت ویش نه دی. په سولې پورې د هغوی تړل غیر طبیعي او غیر عملي اصل دی. دا زموږ دنده ده چې هر یو لپاره بیله بیله مبارزه وکړو.
سولې ته د شخصي معیار پر بنسټ لاسرسی ه شو پیدا کولای. دا په ټولنیزو شرایطو او حالاتو پورې اړه لري چې موږ په کومه کچه دې موخو ته رسیدلی شو.
سر بیره پردې د سیالیو په نړۍ کې دا ناشوني ده چې د خپل شخصي معیار او ګروپي ډلو له لارې سولې ته لاسرسی پیدا کړو، موږ باید د عملي عدالت په شتون قانع اوسو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه کسان چې سوله او عدالت یو ځای غواړي په دواړو کې پاتې راځي او په دا ډول هڅو هغه څه چې په لاس کې لرو هغه هم بایلو.
هغه کسان چې سوله او عدالت سره بیلوي هغوي په خپل هدف کې بریالي کېږي
د سولې د علمی تعریف د ثبوت لپاره دوه تاریخي مثالونو څخه یادونه کوو:
لومړی تاریخي مثال ۱۴۰۰ کاله وړاندې د اسلام د ظهور پر مهال حودایبه د سولې تړون (Hudaibiya Peace Treaty)وه.
دا منلی حقیقت دی چې د اسلام ستر پیغمبر محمد (ص) د مخالفینو له خوا په لرغوني عربي ځمکه له سختو ننګونو سره مخامخ کړل چې هغه وخت جګړې او زور زیاتی رامنځ ته شو. پیغمبر (ص) دا حالات په سمه توګه کنترول او سمبال کړ.
د مسلمانانو او مخالفینو تر منځ د سولې تړون رامنځ ته شو، په دې تړون کې سوله په عدالت پوری ونه تړل شوه او دا تړون په قران کریم کې یو روښانه بریالیتوب ګڼل شوی دی.
د سولې تړون د عدالت اواز چوپوي او بیړنی حالت کنترولوي. په دې توګه د اسلام پیغمبر محمد (ص) وکولای شول چې د شته فرصتونو څخه ګټه واخلي او بالاخره ټوله عربي ځمکه تر خپلې ولکې لاندې راولي.
بل تاریخي مثال د جاپان هیواد دی:
په دوهمه نړیواله جګړه کې جاپان له امریکا ماتې وخوړله. امریکا پوځ د اوکېناوا جزیره اشغال او هلته یې پوځي اډه جوړه کړه د امریکا لخوا د سولې تړون دیکته او جاپان ومانه. جاپان که غوښتل او یا نه غوښتل باید دا تړون ومني او عدالت یې له سولې قربانی کړ او پایله یې څه شوه:
د څو لسیزو په دوران کې ټوله سناریو بدله شوه. جاپان اوکېناوا له لاسه ورکړه مګر په مقابل کې یې د شمالي امریکا په صنعتي مارکېټ بشپړ حاکمیت پیدا کړ.
اوس جاپان د نړۍ په اقتصادی زبر ځواک بدل شوی دی.
دا دوه تاریخي مثالونه موږ دی پایلې ته رسوي چې د سولې علمي فرضیه یوازینی رښتیوني او عملی فرضیه ده.
د سولې معنی دا نه ده چې عدالت پر خپل ځای کېنوو ، د سولې هدف دا دی چې حالات نورمال او جګړه بنده شی.
په سوله کې زموږ ټولې ایډیالې ارزوګانې نه شي عملی کېدای.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ